مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رڼاګل اريوبزی
۲۰۲۱/۰۴/۰۸

# چنډبښ شاه او پولادي پوردل خان

## د ماشومانو له پاره لنډه کيسه

په تیرو زړه زمانوکې، کله چې دواګانې لا قبلید لې، یوه پاچا ژوند کاوه. د ده ټولې لورګانې ډ یرې ښکلې وې، خو کشره لور یې بیا تر ټولو ښکلې وه. دا د ومره ښکلې وه چې کله به یې چې لمرد هغې ښکلاته حیرانیده. هلته د پاچا قصرته نږدې يولوی او تور ځنګل و. په ځنګل کې د يوې لوړې ونې لاندې یوه سړه چینه وه. د پاچا کشره لور به د ورځې په سخته ګرمي کې ځنګل ته تله او د سړې چینې په غاړه به کیناسته. کله کله به یې چې سات نه تیریده، نو د سروزرو کلوله به یې راواخیسته، په هوا کې به یې پورته اچوله او بیا به یې په لاس نیوله. دالوبه ترنورو ټولو لوبو ډیره خوښید له.
دخدای داسې کارونه وو چې یوه ورځ شهزاد ګۍ د سرو زرو کلوله پورته په هواکې واچوله، خو بیرته یې په لاس کې ونه شوه نیولی. کلوله یې له لاسه ختا شوه، په مځکه ولويدله اوچینې ته وکړېد له. شهزادګۍ پسې کتل، خو تر ستر ګو یې پنا شوه، چینه هم د ومره ژوره وه چې بیخ یې په سترګو نه لیدل کیده. اوس نو شهزاد ګۍ په ژړا شوه او ژړا یې هم وار په وار زیا تید له، ترڅو چې چیغو ته ورسید له او نه پوهیده چې ځان ته په څه ډول تسلي ور کړي. دا د دې ویر په حالت کې وه چې ناڅاپه داغږ پورته شو:« ای شهزادګۍ! په تا څه شوي دي، ته دومره چیغې وهې، چې د تیږ ی په شان کلک زړونه هم نرموي.» شهزاد ګۍ شاوخوا وکتل تر څوپوه شي چې داغږ له کومې خوا راغې. په دې وخت کې یې ولید چې یو چنډ ښ خپل غټ او بې شکله سر له اوبو را پور ته کړ. شهزادګې ورته وویل چې.« اخ! دا ته یې چې اوبه شړپوې، زه ځکه ژاړم چې د سروزره کلوله په چینې رانه ولویده.» چنډبښ ورته وویل چیغې مه وهه، زه یې لار پیدا کولی شم، خو که چیرې ستا د لوبو شی، چې په تا ډ یر ګران دی، درته له اوبو را باسم، نو ماته به څه راکړې؟» دې ورته وويل چې:« ګرانه چنډبښه! هرڅه چې ته وغواړې، درکوم یې، زما جامې، زما مرغلرې، زما قیمتي ډبرې اودا زما د سروزرو تاج، دا ټول درکوم.» چنډبښ ورته وویل چې:« زه ستا جامو، ستا مرغلرو، قیمتې ډ برو او د سر تاج سره مینه نه لرم. زه غوا ړم چې ستا محبوب، ستا کورشریک اود لوبو ملګری شم، په یوه د سترخوان ستا تر څنګ کینم، ستا د سروزرو په تالي کې ډوډۍ وخورم، په سره زروګیلاس کې دې اوبه وڅیکم او له تا سره په یو بستر کې ویده شم. که وعده کوې چې داراسره منې، نوورځم، چینې ته ورکوزیږم او د سرو زرو ګلوله دې بیرته درته راوړم.» جلکۍ په بیړه ورته وویل چې:« هو! زه دهر هغه شي وعده در کوم چې ته یې غواړې، خو په دې شرط چې ګلوله مې بیرته راته راوړې.» شهزادګۍ په دې فکر وه چې:« دا کم عقله چنډبښ چټیات وايي. دی به هلته د خپلو همجنسانو سره په اوبوکې ناست وي اوکواک کواک دې وايي. یو چنډبښ به هیڅکله د یوه انسان کور شریک نه شي«.
چنډبښ چې دا ډاډ تر لاسه کړ، په اوبويې سر ننباسه، پکې ډوب شو او یوه شیبه وروسته بیر ته را ووت. ګلوله یې په خوله کې وه او په شینلې کې یې واچوله. شهزاد ګۍ چې خپل د لوبو ښکلی شی بیرته ولید، ډیره خوشاله شوه او هغه یې راپورته کړ او په چټکۍ وتښتیده. چنډبښ ور ناري کړې چې:« صبر وکړه صبر وکړه، ماهم له ځان سر بوزه، زه ستا په شان تیزې مندې نه شم وهلی.» دې چیغو نارو کومه ګټه و ر ونه رسوله. ده په شهزادګۍ پسې په دومره لوړ اواز کواک وکړل
چې له لاسه یې کیدل، خو هغې ورته هیڅ غوږ ونه نیو، په بیړه کورته وخغاسته او بې وزله چنډبښ یې هیر کړ اوچنډبښ بیرته خپل چینې ته ولاړ او ور کته شو.
په دابله ورځ، کله چې شهزاد ګۍ د پاچا او نورو درباریانو سره په ډوډۍ ناسته وه او ټولو په طلایي تالیو کې ډوډۍ خوړله، په دې وخت کې پړچ پړچ پړچ یوڅه شی د مر مرو په زينه راوخوت اوګله چې پاس چت ته ورسید، دروازه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يې وټکوله اوناره يې کړه چې:« کشرې شهزاد ګۍ ور خلاص که.» دې ورمنده کړه ترڅو ووينې چې دا څوک دی. کله چې ور يې خلاص کړ، ويې ليد چې چنده‌ښ دی، نوډيره وډار شوه، ور يې په زور پورې کړ اوبيرته په خپل ځای کيناسته. پا چا وليده چې د لور زړه يې سخت لړزيږي او ويې ويل چې:« لور جانې ولې ډاريږې، ايا د دروازې ترشا کومه لويه بلا ولاړه ده او غواړي چې تاو تيښنتوي؟» لوريې په ځواب کې وويل چې:« نه پلار جانه دا کومه غټه بلا نه ده، دا يو بدشکله چنده‌ښ دی. ما پرون په ځنګل کې دچينې په غاړه لوبې کولې چې دسرو زرو ګلوله مې په اوبو کې رانه ولويده. داچې زه ډيره وژړيدم، نو دا چنده‌ښ راغی، زما د سرو زرو ګلوله يې له اوبو را وباسله او ماته يې راکړه. په بدل کې يې رانه غوښتي وو چې دی به زما کورشريک کيږي. ما هيڅ دا فکر نه شو کولی چې ګوندې دی به دخپلو اوبو نه دراوتو وس ولري.» په دې شيبه کې چنده‌ښ د دوهم ځل له پاره دروازه وټکوله او ناره يې کړه چې:« کشرې شهزاد ګۍ! ما در پورته کړه، په ياد دي نه دې چې د سړو اوبوچينې ترځنګ دې پرون ماته څه وويل. ای کشرې شهزاد ګې ما در پورته کړه«.

په دې وخت کې پاچا ورته وويل چې:« ته بايد په خپله وعده، چې ورسره کړې دي وه، ودريږې. ورځه ور شه او را پورته يې کړه.» شهزاد ګۍ ورغله دروازه يې خلاصه کړه او چنده‌ښ په ټوب ور ننوت او د شهزاد ګۍ تر چوکۍ پورې په هغې پسې روان شو. بيا يې ورته وويل چې:« اوس مې نو درپورته کړه.» شهزادګۍ يوڅه ناخوالي وکړه، خو پاچا امر ورته وکړ چې پورته يې کړي. کله چې چوکي ته يې پورته کړ، نو غوښتل يې چې په ميز کښيني او کله چې بيا په ميز کښيناست، نوو‌ويې ويل چې.« اوس دې دا خپل طلا يي تالی را نږدې کړه چې يو ځای ډوډۍ وخورو.» شهزاد ګۍ دا هم وکړ، خوهر څوک پوهيدل چې دا کار يې دزړ له کومې ونه کړ. چنده‌ښ ډوډۍ په ښه خوند وخوړه، خو شهزاد ګۍ ترې چندان خوند وا نه خيست او څه نا ځه هره ګوله يې په خوله کې بنديده. چنده‌ښ چې ځان ښه موړکړنوو يې ويل چې.« زه موړشوم اوستړی هم يم. اوس مې ستا کوټې ته بوزه اوخپله وريښمينه بستره دې تياره کړه چې پکې دواړه يو ځای ويده شو.» شهزاد ګۍ له دې ساړه چنده‌ښ نه ډاريده، دا جرات يې نه کاوه چې حتی لاس ورنږدې کړي او اوس مجبوره وه چې په خپله وريښمينه اونازنينه بستره کې ورسره يوځای ويده شي، دا په ژړا شوه. په دې وخت کې پاچا ور ته په قارر شو او ويې ويل:« هغه څوک چې داړتيا په وخت يې د رسره مرسته کړي وي، بايد سپک يې نه کړې.» شهزادګۍ چنده‌ښ په دوو ګوتو پورته کړ او د کوټې په کوم کونج کې يې کيښود او دا په خپل پالنګ کې پريوته، خو چنده‌ښ هلته هم ور غی او ويې ويل چې:« زه ستړی يم غواړم ستا په شان ويده شم. ما در پوزته کړه اوکه نه نو ورځم پلارته دې وايم.» په وخت کې شهزاد ګۍ له حده زياته په غوسه شوه. چنده‌ښ يې راپورته کړ اوپه ټول زوريې په ديواله وويشت او ويې ويل چې:« بد شکله چنده‌ښه اوس به يوڅه ارام شې«.

چنده‌ښ چې له د يواله په مځکه پريوت، نور نو چګښ نه و، يو شهزاده وچې ښکلې او مهربانې ستر ګې يې درلودې. شهزاده د شهزادګۍ د پلار په غوښتنه دهغې کور شريک او ميره شو. بيانو ده خپله کيسه بيان کړه چې يوې بد شکله جادوګرې په ده جادو کړی واو دا جادو يوازې همدې شهزاد ګۍ ماتولی شواو يوازې همدې شهزاد ګۍ دسړې چينې له اوبو ازادولی شو. دوی غوښتل چې دهمدې ورځې په سبا دواړه يوځای د د ې ځوان پاچا پاچا هۍ ته لاړشي، دواړه ويده شول اوکله چې سهار د

لمر شغلو را ويښ کړل، ګوري چې يوه ښکلې ګا ډۍ ولاړه ده. ګاډۍ په طلايي ځنځيرونو په اتو سپينو آسانو پورې تړل شوی وه او دهرآس سردطاؤس په سپينه بڼکه ښکلی شوی و. د ګاډۍ ترشا د ځوان پاچا وفادارنوکرولاړو، چې نوم يې پوردل و. وفادار پوردل په دې ډير غمګين و چې په باداريې جادو شويو واوچنده‌ښ ترې جوړ شوی و. وفادار پوردل مجبور شو چې دخپل زړه نه درې پولادي کړۍ را چا پيره کړي ترڅوچې له ډيرغم او خوا خوږۍ ونه چوي. دګاډې دنده داوه چې داځوان پاچآ خپلې پاچاهۍ ته يوسي، پوردل دواړه ګاډۍ ته ور پورته کړل او دی يې ترشا کيناست. پوردل دجادونه دخپل بادار په ازادۍ بې حده ډير خوشال و.

ديوڅه مزل نه وروسته پاچا له شا يوټک واوريد، پوردل ته يې مخ ورواړوه اوويې ويل چې:« پوردله! لکه چې دا ګاډۍ ماتيږي.» پور دل وويل چې:« نه باداره! دا ګاډۍ نه ده ، دا زما دزړه نه راتا شوې پولادي کړۍ ده.» هغه وخت چې ته په چينې کې ناست وې اوکله چې ته چنده‌ښ وې، دازما زړه له غمونو اودردونونه ډک و.

يوځل بيا اوورپسې بيا ټک شو. پاچا هرځل فکر کاوه چې ګوندې ګاډۍ ماتيږي. دا په حقيت کښهغهپولادي کړۍ وې چ دپور دل تر زړه چاپير شوې پولادي کړۍ وې چې اوس يې زړه دخوشاليو له امله يوه په بله پسې ماتيدلې.

ليکونکی: Brüder Grimm

Grimms Märchen: Kinder- und Hausmärchen
Die komplette Liste


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ